# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٢٧ ګڼه / دوشنبه ۰٦ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۷ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۱۵ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


**بهرنیو چارو وزارت:**

## صهیونیستان له خپلو جنایتونو د نړۍ پام پر بله اړوي

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت پرون پر اسراییلو د ایران د بریدونو په تړاو په یوه اعلامیه کې ویلي چې صهیونستان هڅه کوي، سیمه کې کړکېچ رامنځته او د نړۍ پام پر بله واړوي.

دغه وزارت لیکي چې صهیونستانو د روان کال د اپرېل پر لومړۍ د ټولو ډیپلوماټیکو نورمونو او نړیوالو قانونو پر خلاف دمشق کې د ایران پر کونسلګرۍ برید وکړ چې په ځواب کې یې تېره شنبه شپه ایران هم مشروع دفاعي برید وکړ.

دغه وزارت لیکي: د تېر کال له اکتوبر راهیسې صهیونیستي رژیم په غزه کې تر دري دېرشو زرو زیاتو ملکیانو د نسل‌وژنې په دوام په سیمه کې د نورو هېوادونو د حریم د نقضولو او د ناامنۍ پراخولو په پاروونکو اقداماتو هڅه کړېچې په غزه کې له خپلو جنایتونو د نړۍ پام په بله واړوي.

افغان حکومت د نړۍ او سیمې پر اغېزمنو هېوادونو غږ کړې چې د صهیونستي رژیم د ظلمونو مخه دې ونیول شي او د کړکېچ د زیاتېدو مخنیوی وکړي.

د یادونې وړ ده چې تهران تازه پر اسراییلو تر ۳۰۰ زیات توغندي توغولي او شاوخوا ۱۰۰ کسان یې زخمیان کړي دي.

# افتتاح اتاق مشترک تجارت افغانستان - قزاقستان در هرات




مسوولان محلی ولایت هرات از گشایش اتاق مشترک تجارت افغانستان و قزاقستان در این ولایت خبر می‌دهند.

نثار احمد الیاس، سخنگوی والی هرات می‌گوید، این اتاق دیروز در شهر هرات، افتتاح شده است.

آقای الیاس گفته است که هنگام افتتاح اتاق مشترک تاجران افغانستان - قزاقستان مولوی حیات‌الله مهاجر فراهی، معاون مقام ولایت هرات، سفیر قزاقستان مقیم افغانستان و رییس اتاق تجارت این ولایت، حضور داشتند. هدف از ایجاد این اتاق، تسهیل روند تجارت میان... ص۳

**مولوي عبدالکبیر:**

## د خلکو په مټ به تر اختر وروسته هم د امنیت خوندیتوب ته کار کوو

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د اختر په مناسبت د خپلو لیدنو په لړ کې ورمه ورځ د حکومت له یوشمېر مسوولینو، دیني عالمانو، مجاهدینو او قومي مشرانو سره کتلي دي.

یادو قومي مشرانو او دیني عالمانو د نېکمرغه کوچني اختر په ورځو کې د امنیت په ټینګښت خوښي وښوده او د اړونده مسوولینو قدرداني یې وکړه.

هغوی وویل: ((ولسونه د مجاهدینو او امنیتي مسوولینو له نیک چلند څخه خوښ او له اسلامي امارت سره هر راز همکارۍ ته چمتو دي.)) ۳مخ



**اوبو او انرژۍ وزارت خبرداری:**

## د سیند له غاړو او سېلابي سیمو لیري شئ



د اوبو او انرژۍ وزارت د روانې میاشتې له ۲۷ څخه ۲۹ نېټې پورې د هېواد د سیندیزو حوزو په ځینو برخو کې د اوبو د کچې د لوړوالي او د تېزو سېلابونو د راوتلو اټکل کړی دی.

یاد وزارت د یوې خبر پاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د دغه ناڅاپي اورښتونو او ... ۳مخ

## وروستیو اورښتونو د برېښنا بندونو کاسې ډکې او برېښنا زیاته کړې



د افغانستان د برېښنا شرکت وايي، په هېواد کې د وروستیو وروښتونو له کبله د نغلو، سروبي او ماهیپر برېښنا بندونو کې د برېښنا د تولید په کچه کې لوړوالی راغلی دی. یاد شرکت ویلي، چې د برېښنا د تولید دغو درېګونو فابریکو کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۱۳٦۰ میګاواټه برېښنا زیاته شوې، چې په ... ۳مخ

**سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات:**

## احداث سرک واخان باعث رشد اقتصاد منطقه یی خواهد شد

سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات ملا محمد یونس آخندزاده سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات در دیدار با جاوشینگ سفیر چین در کابل گفت: احداث سرک واخان باعث رشد اقتصاد منطقه یی خواهد شد.

دفتر مطبوعاتی وزارت احیا و انکشاف دهات، در خبرنامه‌ی نوشته است: سرپرست آن وزارت با جاوشینگ سفیر چین در کابل دیدار کرده است.

در این دیدار سفیر چین در کابل در مورد نحوه ساخت سرک واخان که کار آن از واخان بدخشان الی سرحد چین از طریق وزارت احیا و انکشاف دهات جریان دارد، صحبت کرد.

ملا محمد یونس آخندزاده، سرپرست وزارت احیا و... ص۳




دشیخ الحدیث مولانا عبداللطیف اخونزاده ژوند او هڅو ته کتنه ۲

هغه میرویس خان چې ګرګین یې وځغلاوه!! ۲

دمدینې پر لور ۲

افغان اعلانات ۳


**کار او ټولنیزو چارو وزارت:**

## تر اختر وروسته مو تر ۱۵۰ د زیاتو دولتي ادارو څار کړی

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د اړیکو ریاست په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د تیر کوچني اختر په مناسبت له رسمي رخصتیو وروسته د مرکزي او ولایاتو په ۵٦ امارتي ادارو کې د حاضرۍ د تفتیش پروسه پیل شوې ده. یاد وزارت زیاتوي، چې دا پروسه یې د کاري رژیم د کنټرول او د کارونو د غوره تنظیم په موخه د دې وزارت د کار د تفتیش او لارښووني ریاست له لوري پیل کړې ده. د کار او ټولنیزو چارو وزارت ټینګار کوي، چې دا پروسه یې هېوادوالو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو، د کاري بهیر د پڅوالي مخنیوي او ګړندیتوب په موخه پیل کړې، چې دوه ورځې به دوام وکړي. د یادونې وړ ده، چې د تېر کوچني اختر په مناسبت د تیرې اونۍ د چهارشنبې له ورځې راهیسې د یاد وزارت له لوري د روانې اونۍ تر شنبې ورځې رسمي رخصتي اعلان شوې وه، چې نن بیرته په ټول هېواد کې په عادي ډول د دولتي ادارو کارونه پیل شوي دي.

## افزایش روز افزون بازدید کنندگان از موزیم بدخشان



مسوولان محلی بدخشان می گویند که موزیم محلی این ولایت با داشتن ٦۵ اثر تاریخی، فرهنگی و باستانی در ماه بیش از ۱۰۰ نفر بازدید کننده دارد که نسبت به سال پار افزایش ۵۰ درصدی رانشان میدهد.

به اساس ارقام ارائه شده، درماه گذشته بیش از صد بازدید کننده از آثار این موزیم دیدن... ص۳

### سرمقاله

## د اسراییلو تغر په ټولېدو دی

که څه هم سیاسي تاریخ کې پر فلسطین د صلیبي صهیونستانو اشغال لنډ پېر ته رسیږي، خو پر دغه مقدسه خاوره د دوی ولکه پخوانۍ ده. دغه مسله په نږدې تېره یوه پېړۍ کې ګرمه ده او ستر دلیل یې په شلمه پېړۍ کې اسراییل د یوه دولت په توګه رامنځته کېدل دي. اسراییل له پاکستانه یو کال وروسته یعنې په ۱۹٤۸ کې مصنوعي رامنځته، په ملګرو ملتونو کې یې رسمي هویت خپل کړ او تر هر چا وړاندې یې امریکا ملاتړ ته راودانګل. ددغه هیواد له رامنځته کېدو سره ګڼو اسلامي هیوادونو مخالفت وښود، چپاوونه یې پرې وکړل، خو کفري نړۍ یې په ننګه ودرېده. بل پلو، د تاریخ پاڼې شاهدې دي چې د مجاهدینو په صفونو کې هم درز تر هر چا وړاندې د همدغو کفارو په لمسون ګوډاګیو اسلامي هیوادونو رامنځته کړ او د ازادۍ مبارزین یې د امریکا او ناټو په رضایت له تېغه تېر کړل. اسراییل، له زوکړې وروسته هم لسیزې لسیزې ناتوان و، خو د امریکا او ناټو بې خرته مرستو دغه هیواد ځواکمن او مغرور کړ. ارقام ښيي چې یوازې واشنګټن له دغه هیواد سره، دویمه نړیواله جګړه کې امریکا ته د وراوښتي زیان هومره مرسته کړې ده.

باوجود ددې چې د دغه هیواد د نابودۍ او د فلسطین د ازادۍ په پار ګڼې هڅې وشوې، یرغلونه او ګڼ فردي کوښښونه وشول، خو یوه یې هم دومره موثره نه وه. د ۲۰۲۳ د اکتوبر د اوومې پېښه او د حماس ابابېلو یرغل پر اسراییلو بیخي هېښوونکی و. دغه ناڅاپي او پرېکنده جګړې سره اسراییل له لومړۍ ورځې نه و مخ شوي. حتی داسې هم ویل کیږي چې د عربو او اسراییلو ټولې جګړې د حماس د دغې حماسې یو خورد هم نه کیږي. له دغې غزا شپږ میاشتې تېرېږي، خو لا یې هم د پای ته رسېدو کوم څرک نشته، بل خوا هغه تېرې جګړې یوازې له یوې، دوو یا د ګوتو په شمېر ورځو نه اوښتې. بل خوا د هغو جګړو او دغې زیان هم د پرتلنې وړ نه دی. که څه هم تازه ایران او حزب الله پر دغه مصنوعي هیواد څو لوریز بریدونه کړي، خو ددغه هیواد سیاسي کشالې، مالي وضعیت د امریکا، ناټو او نورو لاسپرېدل، د حماس مجاهدینو استقامت او نور دا راښیي چې ددغه هیواد د ځواکمنتیا او عروج طلسم مات دی. داسې ګومان کیږي چې د ایران له برید سره به خپه شوي کفار بېرته د اسراییل قوي ملاتړ ته راودانګي.

## کمک به یک شفاخانه در کندز؛

سازمان صحی جهان از کمک صحی‌اش برای حمایت از ارایه خدمات صحی ضروری به ۷۲ هزار نفر در کندز، خبر داده است.

این نهاد در صفحه‌ای اکس‌اش نوشته است که به ارزش نزدیک به ۱۰۵ هزار دالر دوا و لوازم طبی را با شفاخانه حوزه‌یی کندز کمک کرده است.

این نهاد می‌افزاید که هدف از کمک‌ها حمایت از ارائه خدمات صحی ضروی به ۷۲ هزار نفر است.

گفته می‌شود که این کمک‌ها شامل کیت‌های اضطراری، کیت‌های تروما، مجموعه‌های عمل، مجموعه‌های پانسمان و سایر اقلام مصرفی است.




## روزګان، کونړ، پنجشېر، لغمان او غور ولایتونو کې سېلابونو خلک زیانمن کړي



د روزګان، کونړ، پنجشېر او غور چارواکو په یادو ولایتونو کې د سېلابونو له کبله خلکو ته د ځاني او مالي زیانونو د اوښتو خبر ورکړی دی.

د روزګان د طبعي پېښو پر وړاندې د چمتوالي رئیس ملا عبدالله خالد باختر اژانس ته ووېل چې په دغه ولایت کې د وروستیو ... ۳مخ

# د شيخ الحديث مولاناعبداللطيف اخونزاده ژوند او هڅو ته کتنه

**مفتي محمدګل مفتل سعيد**

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ويلي دي: العلماء سرج الأزمنة کل واحد مصباح زمانه يستضئ به أهل عصره. يعني عالمان د زمانو څراغان دي، هر يو يې د خپل وخت څراغ دی، چې د خپل عصر خلک ترينه رڼا اخلي. د يوه عالم وفات د امت لپاره ستر مصيبت او لوی زيان بلل شوی دی، خو دومره بايد ووايم چې د يوه عالم او داعي وفات په دې زمانه کې چې څومره دخلکو ترمينځ عادي شميرل کيږي، په حقيقت کې کوم عادي يا معمول رويداد نه دی. شيخ الحديث مولاناعبداللطيف اخونزاده رحمه الله د تاج المشائخ مولانا محمدعظيم (د عزيزاحمد خان کلاملا صاحب) زوی، د شيخ الحديث مولوي محمدنعيم مشهور په کوڼ اخونزاده ورور د افغانستان له لويو عالمانو او مشهورو پوهانو څخه ؤ، چې په ۱۳۶۲هـ ق/۱۳۲۰لمريز کال د لوګر ولايت د مرکز اړوند د هونی سفلی د کلي په يوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زيږېدلی دی. مور بي بي چې په ختټه سيده وه او ۱۳۶۵لمريز کال په کوهاټ کې وفات شوې، او همدلته د زرګري د لويې مدرسې ترڅنګ خاورو ته سپارل شوې ده، اروابناده دخپل وخت عالمه او فاضله ميرمن وه، او په ديني علومو کې يې لوی لاس درلود.

پلار يې مولوي صاحب حاجي محمد عظيم چې د خپل وخت يو نوميالی عالم ؤ، د ملي قايد حاجي ميرويس نيکه د ورور مير عبدالعزيز له اخلافو څخه شمېرل کېده، د ده د کورنۍ شجره د مير عبد العزيز پورې رسيږي، چې دغه مير عبد العزيز د ښالم خان چې په ځينو کتابونو کې د (شاه عالم خان) په شکل ليکل شوی دی زوی دی ښالم خان دکرم خان زوی او دملي قايد حاجي ميرويس نيکه پلار ؤ، د هوتکو ښالم خيله پښه د ده له نامه سره اړيکه لري، ښالم خيل دهوتکو پاچا خيل دي چې په نسبي پيوند کې د ساګزيو هوتکو يو ښاخ دی.

مرحوم اخونزاده صاحب ابتدايي زده کړې له خپل عالم او فاضل پلار او له خپلې عالمې او فاضلې مور بي بي نه وکړې. په ديارلس کلنۍ کې ددوديزو فنونو په زده کړې پسې له کوره ووت او په مختلفو مدارسو کې يې ديني علوم ولوستل. مرحوم اخونزاده صاحب د خپل پلار په لارښوونه او پاملرنه د عربي او ديني علومو تحصيلات په ذوق سره شروع کړل، د لوګر د ځينو نامتو، متدينو علماء کرامو لکه شيخ المشايخ سراج العلماء والمشائخ شيخ الحديث مير صاحب عبدالستار جان رحمه الله ، شيخ الحديث مولانا فضل حق (د ملاحسن کلا ملا صاحب) څخه يې زده کړې وکړې. دلوړو زده کړو لپاره بيرته خپل فاضل او عالم پلار ته راغی او له هغه نه يې احاديث، تفسير ولوستل. بيا د يو تکړه عالم، مشهور مقنع او جامع مدرس په حيث وپيژندل شو. له فراغت سره سم يې تدريس ته ملاوتړله او د لوګر ولايت د مرکز اړوند د ګداخيلو په کلي (شلک) کې يې د امامت دسپيڅلې دندې ترڅنګ ددينې علومو تدريس پيل کړ. او د يو منلي او د فخر وړ استاذ په حيث مقرر شو د لرې لرې سيمو زده کوونکو ورته راتلل او له ده څخه يې استفاده کوله، دوديز ديني علوم لکه حديث، فقه، اصول دفقهې، منطق، رياضي، فلسفې، کلام، معاني، او تفسير علومو کې تدريس کاوه. دده علمي شخصيت ورځ په ورځ د صالحه مقاماتو په توجه د استفادې مدار کېده. تر ۱۳۵۷لمريز کال پورې يې په همدې کلي کې په زړه پورې تدريس وکړ او بې شمېره شاګردان يې وروزل. د مرحوم اخونزاده صاحب د علم د فيض نه ډېرو اشخاصو فيض موندلی او د علمي ممتاز شهرت له کبله استاذ کل په حيث منل شوی ؤ، ډېر لوی لوی علماء، فضلاء، مدرسين، قضاة او لوی شخصيتونه اوس هم شته چې د اخونزاده صاحب په استاذۍ فخر کوي او وياړي

کله چې په ۱۳۷۳ لمريز کال د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبانو خوځښت پيل شو. دی هم د هغوی کلک ملاتړی او همکار شو ، ډېره موده يې په دې سپيڅلي صف کې د قضاء دنده اجراء کړه، د طالبانو مشرانو به مشورې ورسره کولې او ده يې پوره همکاري کوله. ده به د طالبانو په علمي پروګرامونو کې د لويو رجالو سره په علمي، اجتماعي مجالسو کې ګډون کاوه، او دده د علمي نظر د افق وسعت او د اجتماع د مصالحو سره په مينه لرلو هغوی ورته درناوی کاوه. مرحوم اخونزاده صاحب د تاليف سره خاص ذوق درلود او په هر علم کې سختو درسي کتابو باندې حاشيې ليکلي دي او هم يې يو شمېر علمي، تحقيقي، تاريخي او ارزښتناک کتابونه ليکلي دي. نومورې تر مرګه پورې يې قلم له لاسه ونه غورځاوه. او زيات شمېر تاليفات يې دصدقه جاريه په توګه ترشاه پريښودل. دتاليفاتو نومونه يې دادي:

۱ـ د رسالة البهية فی رؤية الهلال للصوم والفطر والأضحية په نامه دخپل مرحوم استاد شيخ المشائخ مير صاحب عبدالستار جان رحمه الله رساله چاپ کړې او بيا يې د البرهان القدسية په نامه ددې رسالې شرح ليکلې او چاپ کړې ده.

۲ـ دحضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم مبارک سيرت د ( التذکرة المکية في سيرة النبوية، من بدأ تاريخها الی سنة ۱۴۰۰هـ ) په نامه په پنځو ټوکو کې په روانه اوسليسه عربي ژبه ليکلی او چاپ کړی دی.


۳ـ د افغانستان په مفاخرو او شخصيتونو په دريو ټوکو کې په عربي ژبه د (المفاخرالأفغانيه بالتراجم للعلماء والمشائخ مع عبر الملوک والأمراء فی المملکة الأفغانية) په نامه جامع تاريخ ليکلی او چاپ کړی دی.

۴ـ تکميل المفاخرالأفغانية في خمس مجلدات. وذيل المفاخرالأفغانية في مجلد و معه الرسالة الفخرية. او نور مشهور اثار...

اخونزاده صاحب له يوه پلوه درويش، عابد او زاهد ؤ، خو ورسره نوميالی عالم او محقق ؤ، پر خپلو افغاني رواياتو، زهد او تقوا ښو اخلاقو، تواضع او علمي پلټنو سخت ولاړ و، مجلس يې خوږ او پراخ و، د خپلو تېرو صالحينو د علم او عمل ښه نمونه و مرشدانه شفقت محبت او مهرباني يې درلوده، او يو شمېر شاګردان يې پرېښوول چې په حقيقت کې د ده علمي ترکه ده. الله تعالی ده جناب ته ډېر ښه صفات ورکړي وو. چاچې ليدلی ؤ او يا يې ورسره تعلق ؤ نو يقيناچې هغوی هم دده په دې ټولو صفاتو باندې اعتراف کوي. يوڅو صفات يې اجمالاً په لاندې ټکو کې راټولوم: شيخ صاحب (رحمه الله) په دې سربيره چې متبحرعالم ؤ، دمجاهدينو لپاره يې ديو ښه لارښود حيثيت درلود. ده به هميشه له مجاهدينوسره ليدل، هغوی ته به يې توصيې کولې او دخپل توان په اندازه يې ورسره دخير په چارو کې همکاري کوله. ده پخپل ژوندکې د تدريس او جهاد ترڅنګ دعامو مسلمانانو تنازعات هم حل کول او حتی د قومونو په سطحه به يې شخړې هوارولې.

وفات: حضرت شيخ صاحب (رحمه الله) د ۱۴۴۵ کال رمضان المبارک د مياشتې په ۲۲ د دوشنبې په ورځ په خپله مدرسه دارالمساکين قدسيه کې د خپل مشر ځوی شيخ القران والحديث مولوي عبدالمتين فياض صاحب د دوره تفسير په ختم کې شرکت وکړ او خپله تفصيلي وينا يې له حاضرينو سره شريکه کړه. د نورو کلونو په نسبت سږ کال په رمضان المبارک کې ډېر صحتمند و، د رمضان له پيل نه تر خپل وفاته پورې يې ټول لمونځونه په جماعت سره ادا کړل، په داسې حال کې چې له رمضان نه مخکې ډېر په تکليف و، د پښو او سينې د تکليف له امله تقريبا څلويښت ورځې جومات ته نشو تللی. سږ کال يې په رمضان کې د نورو کلونو په نسبت د قران کريم تلاوت زيات کاوو، په اخري عشره کې يې بيا د اولو عشرو په نسبت تلاوت زيات و، له ليکلو سره سره يې په اخري عشره کې په پنځه ورځو کې دوه ځله ټول قران کريم ختم کړ، په وروستيو ورځو کې يې ان تر پيشلمي پورې به تلاوت کاوه. د رمضان المبارک په وروستی عشره کې د روژې د ۲۹ په شپه يې له تراويح لمانځه وروسته په خپل جومات کې خپلو مقتديانو ته تفصيلي وينا وکړه چې همدا يې خپله وروستۍ وينا وه. د روژې په ۲۹ د دوشنبې په ورځ يې د ماسپښين لمونځ هم په جماعت ۳ادا کړ تلاوت يې وکړ، کورته راغی، تر مازيګره بيا تلاوت ته ناست و، اودس يې تازه کړ دمازيګر لمانځه له پاره جومات ته روان شو، جومات ته په لاره روژه په خوله د جومات له دروازې سره نږدې يې خپل روح رب لايزال ته په داسې حال کې وسپاره چې نه خپله تکليف شو او نه يې بل څوک له ځان سره په تکليف کړل، د هغو خلکو په وينا چې په هغه وخت کې ورسره و، د حضرت شيخ صاحب (رحمه الله) په وفات او د روح په قبض کې يوه دقيقه وخت هم نه دی تېر شوی.

جنازه يې د ۱۴۴۵ د رمضان المبارک په ۳۰ مه د سه شنبې په ورځ چې د اپريل (۲۰۲۴/۹) سره برابره وه په ۱۱ بجو د خيرآباد کيمپ په هديره کې د شيوخو، علماءکرامو او د زرګونو کسانو په حضور کې د شيخ القران والحديث مولوي عبدالمتين فياض صاحب په امامت سره ادا شوه. وروسته په همدې هديره کې خاوره ته وسپارل شو. په جنازه کې يې بې شمېره علماؤ او مشائخو ګډون کړی ؤ. دبيلګې په توګه شيخ الحديث مولانامحمداسماعيل رحماني (دامت برکاتهم العالية)، شيخ الحديث مولانا مير محمدفاروق (دامت برکاتهم العاليه)، شيخ الحديث مولاناعبدالمالک حقاني الوزی(دامت برکاتهم العالية)، شيخ الحديث مولانا قلم الدين حقاني الوزی، د قاسميه جامعې مؤسس مفتي حبيب الله قاسمي، شيخ الحديث مولانا عبدالصبور ، شيخ الحديث خيرالله صاحب او نورو ګڼرو مشايخو يې جنازه کې شرکت کړی ؤ.



# هغه میرویس خان چې ګرګین یې وځغلاوه!!!

**محمدعلي عظمت**

ميرويس نيکه دښالم خان او نازو انا زوی و، چې۱۰۸۶هـ ق کال يې نړۍ ته سترګې غړولې.د ده دمور له خوا نيکه سلطان ملخی توخی له کندهاره تر جلدکه دقومونو او اقوامو مشر و. د ده لور او دميرويس نيکه مور هم عالمه او فاضله، شاعره اوشجاعه مېرمن وه.

سحرګه وه دنرګس لېمه لانده
څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده
ما ويل څه دي ښکليه ګله ولې ژاړې
ده ويل ژوند مې دی يوه خوله خنديده

نازوانا رح دومره تقواداره او پرهيزګاره وه چې آن اولاد ته يې په اوداسه شيدې ورکولې.

ميرويس نيکه يې ښه وروزه، دعلم په ګاڼه يې سمبال کړ، وطني مينه او شجاعت يې ور زده کړل. ولې له بده مرغه دا مهال مو هېواد د صفويانو دنائب الحکومه ګرګين له واک لاندې و، هغه له افغانانو سره خورا ډېر ظلمونه کول. ګرګين چې په تاريخونو کې دګرګين خان په نوم هم ياد شوی دی په اصل نسل ګورجی يا ګورجستانی و چې د ۱۶۵۱ ميلادي کال د اپريل دمياشتې په ۲۱ نېټه زيږېدلی و.پلار يې وختنګ نوميده ، نوموړی په ګرجستان کې ديوې سيمې واکمن و.دی په اوله کې نصراني و چې وروسته يې داسلام دين ومانه او د شهنوازخان نو م يې غوره کړ، خو وروسته يې بيا داسلام دين پرېښود او درومن کاتوليک نصراني مذهب يې اختيار کړ .تر هغه وروسته بيا دصفويانو د شاه سليمان صفوي له خوا له دندې ګوښه او کړل شو ، خو کله چې په ايران کې صفوی شاه حسين پاچا شو ده ته بيا دنده ورکړل شوه چې دايران په کرمان کې دبلوڅانو د هغه بريد مخه ونيسي ، چې دصفويانو د حکومت پر خلاف ترسره شوی و او په دې توګه ګرګين هغو بلوڅانو ته ماتې ورکړه چې دصفوي شاه حسين پر خلاف يې دبغاوت بيرغ را اوچت کړی و.

کله چې ګرګين په کرمان کې بلوڅانو ته ماتې ورکړه نو دا ځل صفوي حکومت نوموړی دافغانانو دټکولو لپاره له شلو زرو پوځيانو سره کندهارر ته وليږه او نوموړي دايران د صفوي حکومت دبيګلربيګي ( نائب الحکومه) په توګه په کندهار کې دنده سرته رسوله .

ګرګين او پوځونو يې دکندهار پر بېګناه خلکو ډېر ظلمونه وکړل.ده به له خلکو ملا ماتوونکي ماليې اخيستلې .دي ډېر ظالم انسان و او کله به چې دشرابو په نشه کې غرق شو نو ظلمونه به يې نور هم زيات کړل ، خلک به يې وهل ټکول او هرډول ظلمونه به يې پرې کول. په دغه وخت کې ميرويس نيکه دکندهار دښار مشر و او ميرويس خان هوتک هم څو څو ځلې دصفوي پاچا شاه حسين دربار ته دده له لاسه شکايتونه وکړل او څو څو ځلې يې دده دظلمونو په اړه شاه حسين ته ليکونه واستول ، خو صفوی پاچا شاه حسين به ورته ويل چې ګرګين له ده څخه نه ډاريږي هيڅ خيال او پروا يې نه ساتي، نوموړی ببخښي ددې جوګه نه دی چې ګرګين قابو او مهار کړي، بلکې په خپله دی ترې ډارېږي. کله چې ګرګين دحاجي ميرويس خان هوتک له دې کړواو شکايتونو څخه خبرشو ، نو هغه يې دايران صفوي دربار دښمن وګاڼه او دکندهار ښار له مشرۍ يې لرې او ګوښه کړ ، ميرويس خان او دده نور ملګري يې ايران ته وليږل چې دده له لاسه يې صفوي دربار ته شکايتونه کړي وو. حاجي ميرويس خان او دده ملګري چې دګرګين له لاسه يې شکايتونه کړي وو دايران په صفوي دربار کې نظر بند شول، خو تر څه مودې وروسته ميرويس خان دخپلې سيا سي پوهې او ورتيا له امله په دې وتوانيد چې د صفوي دربار لوړ پوړي چارواکي او آن په خپله صفوي پاچا په دې قانع کړي چې ګرګين يو ناپوه انسان دی اودوی يې د ګرګين پر خلاف بدبينه کړل ، خو سره له دې صفوي دربار دميرويس نيکه يوې غوښتنې ته هيڅ پاملرنه او توجه ونه کړه.

کله چې ميرويس نيکه دايران له صفوی دربار ه ناهيلی شو نوله هغه يې اجازه تر لاسه کړه او دبيت الله شريف دحج په نيت روان شو. ده هلته له ديني عا لمانو دا فتوا واخيستله چې: ګرګين بايد ووژل شي او هغوعالمانو هم دګورګين دوژلو فتوا صادره کړه او نيکه هغه فتوا چې ديني عالمانو پرې لاسليکونه کړي وو، له ځان سره کندهار ته راوړه.

کله چې ميرويس نيکه دبيت الله شريف له حج کولو بيرته کندهار ته را ستون شو نو د کوکران په سيمه کې ، چې ارغنداب ته نژدې پرته ده يوه لويه جرګه راوبلله اوپه هغه جرګه کې يې د اسلامي نړۍ د عالمانو هغه فتوا ګا نې دوی ته ښکاره کړې چې ده له هغو ترلاسه کړې وې . بايد زياته کړو چې دا وخت په افغانانو کی له ميرويس خان پرته بل څوک نه و چې هغوی يی د صفوی حکومت او ګرګين له ظلمونو ژغورلي وای.

ميرويس نيکه بيا ترديې وروسته يوه بله جرګه ۱۱۱۹ هـ ش را وبلله چې هغه جرګه دکندهار په ختيز کې دمانجې سيمه کې جوړه شوه، همدا تاريخي جرګه زموږ په تاريخونو کې دما نجې دجرګې په نامه سره مشهوره ده.

دمانجې په جرګه کې چې دکندهار دبيلابيلو قومونو منلو مشرانو لکه: سيدال خان ناصري ،بابوجان بابي ،بهادرخان ،ملا پيرمحمد هوتک مشهور په ميا جي ،يوسف خان هوتک ، عزيزخان نورزی، نورخان بړيڅ. ګل خان بابړ،نصروخان الکوزی ، دميرويس نيکه ورور يحيی خان ، دميرويس نيکه وراره محمد خان مشهور په حاجي انکو او يونس خان کاکړ برخه اخيستې وه .دجرګې ټولو ګډونوالو پر قرآن شريف سوګندونه وخوړل چې دګرګين پرخلاف به مبارزه او جهاد کوي، هغه به وژني. کندهار او ګران هيواد به دګرګين او ګرګيانو له ظلمونو او نا رواوو څخه ژغوري .

ميرويس نيکه دګرګين او دهغه دلښکرو دختمولو لپاره يو پلان جوړ کړ او دا يو داسې پلان و ،چې بل هيڅوک پرې خبرنه شول، يوازې ميرويس نيکه او دهغه هغو ملګروته هرڅه معلوم وو ،چې په جرګه کې يې له ده سره يوځای دهيواد دژغورنې سوګندونه کړي وو.په دغه وخت کې دارغستان په سيمه کې چې اوس دکندهار يوه ولسوالي ده خلکو ګرګينيانو ته له ماليو ورکولو انکار وکړاو ګورګين په خپله دهغو خلکو د ټکولو لپاره هلته لاړ او پر هغو يې ظلمونه پيل کړل .

ميرويس نيکه ګرګين ته ... ۳مخ

# د مدينې پر لور

**يوولسمه برخه**

**ليکوال: سيدابوالحسن ندوي رحمه الله ژباړن: محمدصادق طارق**

اقبال وروسته په زيات غم او خواشينۍ د خپل بې اخلاصه او بې سوزه زمانې له لاسه ژاړي او وايي: زه په ختيځ او لويديځ کې غريب يم او يوازې ژوند کوم ځکه د راز له محرم څخه محروم يم.

نگاهم زانچه بينم بی‌نياز است
دل از سوز درونم در گداز است
من و اين عصر بی‌اخلاص و بی‌سوز
بگو با من که آخر اين چه راز است
*من اندر مشرق و مغرب غريبم
که از ياران محرم بی‌نصيبم
غم خود را بگويم با دل خويش
چه معصومانه غربت را فريبم

اقبال له دې امله شکايت کوي چې چا يې په مخلصانه او ګټمنو نصيحتونو عمل نه دی کړی، د علم له ونې څخه يې ميوه نه ده شکولې او ګيله يې کړې چې خلک د دې پر ځای چې ورته د دين ترجمان ووايي، د يوه شاعر په توګه يې پيژني.

به آن رازی که گفتم پی نبردند
ز شاخ نخل من خرما نخوردند
من ای امير اُمم داد از تو خواهم
مرا ياران غزل خوانی شمردند

اقبال د رسول الله صلی الله عليه و سلم په حضور کې شکايت کوي چې ای د الله تعالی رسوله! تاسو ما ته امر کړی دی چې د تل پاتې ژوندون پيغام هغوی ته ورسوم خو دا حق ناشناسه له ما غوښتنې کوي چې په خپلو اشعارو کې مرثيې او د خلکو د وفات نيټې ووايم.

تو گفتی از حيات جاودان گوی
به گوش مرده‌ای پيغام جان گوی
ولی گويند اين ناحق شناسان
که تاريخ وفات اين و آن گوی

وروسته په زيات درد، سوز او حسرت شکايت کوي چې معاصرانو يې علم او رسالت ته چې د ده د اشعارو روح بلل کيږي، توجه ونکړل. هغه وايي خپل ارزښتمنه متاع او سوی زړه مې په لاس کېښود او خلکو ته مې وړاندې کړ خو څوک يې په ارزښت پوه نه شو نو ځکه په دا نړۍ کې داسې څوک راته معلوم نه دی چې تر ما دې غريب او يوازې وي.

دلی بر کف نهادم دلبری نيست
متاعی داشتم غارتگری نيست
درون سينه‌ی من منزلی گير
مسلمانی ز من تنهاتری نيست

هغه خپله قصيده په څو بيتونو چې د حجاز د وقت باچا عبدالعزيز بن سعود يې پکې مخاطب ګرځولی دی، پای ته رسوي خو په حقيقت کې يې د خبرو لور مخ پر ټولو عربي شاهانو او د اسلامي نړۍ رهبرانو ګرځولی دی. هغه په خپلو شعرونو کې سلطان له پرديو او اروپايي هيوادونو څخه د مرستې غوښتلو په اړه ډاروي او پر الله تعالی او ځان باندې يې د اعتماد لورې ته رابولي. هغه ورته وايي: ځان دې وپيژنه؛ ته پر داسې ځمکه واکمن يې چې شپه يې هم د ورځې غوندې رڼا او ځلا لري، ستا کيږدۍ بايد پر خپلو واښکيو او ټېمک ولاړه وي او مه يې هيروه چې له پرديو څخه مرسته غوښتنه حرامه ده.

ترا اندر بيابانی مقام است
که شامش چون سحر آئينه فام است
به هر جائی که خواهی خيمه گستر
طناب از ديگران جستن حرام است
*
ز افرنگی صنم بيگانه تو شو
که پيمانش نمی‌ارزد به يک جو
نگاهی وام کن از چشم فاروق
قدم بی‌باک نه در عالم نو

**نور بيا ...**

# افغان اعلانات

### اطلاعیه تصمیم به اعطای قرارداد

موضوع: پروژه تدارک گاز مایع

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا در نظر دارد ، قرارداد پروژه تدارک گاز مایع مورد ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا دارای تشخیصیه نمبر AOP/G/۰۰۴/۱۴۰۳/NCB را با شرکت محترم ابو عزیز لمیتد واقع مندوی ناحیه اول مرکز کابل دارنده جواز نمبر ۳۶۰۰ وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی مبلغ ۴،۶۱۰،۰۰۰ (چهار میلیون و شش صدو ده هزار) افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. ۳۷٤

***

### اطلاعیه تصمیم به اعطای قرارداد

موضوع: پروژه تدارک میوه خشک

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا در نظر دارد ، قرارداد پروژه تدارک میوه خشک مورد ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا دارای تشخیصیه نمبر AOP/G/۰۰۳/۱۴۰۳/NCB را با شرکت محترم تجارتی، خدمات لوژستیکی و ساختمانی پتان باور واقع ناحیه ۸ مرکز کابل دارنده جواز نمبر D-37365 وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی مبلغ ۵۹۳،۰۰۰ (پنجصد و نود و سه هزار) افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. ۳۷۵

***

### اطلاعیه تصمیم به اعطای قرارداد

موضوع: پروژه تدارک مواد تنظیفی

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک مواد تنظیفی مورد ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا دارای تشخیصیه نمبر AOP/G/۰۰۷/۱۴۰۳/NCB را با شرکت محترم بومیان خراسان واقع کارته سه پل سرخ مرکز کابل دارنده جواز نمبر ۳۲۰۴۰ وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی مبلغ ۸،۰۸۷،۲۴۳ (هشت میلیون و هشتادو هفت هزار و دوصدو چهل و سه) افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. ۳۷۷

***

### اطلاعیه تصمیم به اعطای قرارداد

موضوع: پروژه تدارک گوشت باب

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا در نظر دارد ، قرارداد پروژه تدارک گوشت باب مورد ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا دارای تشخیصیه نمبر AOP/G/۰۰۵/۱۴۰۳/NCB را با شرکت محترم تجارتی، ساختمانی و خدمات لوژستیکی عزت الله لوی قندهار واقع کمپنی مرکز کابل دارنده جواز نمبر ۲۱۷۷۶ وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی مبلغ ۸،۶۱۱،۸۹۰ (هشت میلیون و ششصدو یازده هزار و هشتصدو نود) افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. ۳۷٦

***

### اعلان داوطلبی (۱۰) باب دوکاکین واقع مندوی مربوط مدینه مارکیت!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(۱۰) باب دوکاکین ذیل واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت را طور جداگانه از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.

۱. یکباب دوکان نمبر۱ بمساحت ۱۲ مترمربع واقع کوچه مندوی مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۵/ ۲٤۷۸۳) افغانی.

۲. یکباب دوکان نمبر۲ بمساحت ۱٦ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۸/ ۳۲۱۹۰ ) افغانی.

۳. یکباب دوکان نمبر۳ بمساحت ٦۰/ ۱۳ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲۱٤۹ ) افغانی.

٤. یکباب دوکان نمبر٤ بمساحت ۳۳/ ۲۲ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۹/ ۳۸۱۵٤)افغانی.

۵. یکباب دوکان نمبر۵ بمساحت۹ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۹۰۷) افغانی.

٦. یکباب دوکان نمبر٦ به مساحت۳٦/ ۹ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۹۰۷) افغانی.

۷. یکباب دوکان نمبر۷ بمساحت ۹ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۱٦٤۲) افغانی.

۸. یکباب دوکان نمبر۸ به مساحت ۳٦/ ۹ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۱٦٤۲) افغانی.

۹. یکباب دوکان نمبر۹ به مساحت ٦٤/ ۸ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۱٤۸ ) افغانی.

۱۰. یکباب دوکان نمبر۱۰ بمساحت ٦٤/ ۸ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤/ ۱۲۷۵۵)افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۱۷۷۲٤/ ٦۹- ۳٤/ ۵۱۷٤۱

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۱) یوم به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینماپامیرتعمیر۱٤منزله، منزل۵،مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز، شماره تماس (۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،

مجلس داوطلبی بعد از ختم نشر اعلان به ساعت(۹:۳۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق می باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از (۲۱ / حمل /۱۴۰۳ الی ۱۰/ ثور/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر (۱٤) منزله، منزل (۵) مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزی.

مجلس داوطلبی : تاریخ (۱۱ / ثور/ ۱۴۰۳) به ساعت ۹:۳۰ قبل از ظهر برگزار میگردد.

**شماره تماس:**

۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## افتتاح اتاق مشترک تجارت افغانستان...

تاجران افغان و قزاق گفته شده است. سخنگوی والی هرات افزوده که تاجران افغانستان و قزاقستان به‌دنبال افزایش میزان تجارت میان دو کشور هستند. قزاقستان از کشورهای همسایه افغانستان است که پس از حاکمیت امارت اسلامی روابط سیاسی و تجارتی را با افغانستان گسترش داده است.

## پوهنې وزیر هرات کې دوې دیني...

مدرسو پرانیسته وکړه. ویل کیږي چې دغه دیني مدرسې د ۱۰ میلیونه ۷ سوه زره افغانیو په لګښت جوړې شوي دي. پوهنې وزیر ماشومانو ته د ښوونې او روزنې برخو کې د لا چوپړ ژمنه وکړه او له هراتیانو یې وغوښتل چې خپل کوچنیان ښوونځیو او مدرسو کې شامل کړي.

## احداث سرک واخان باعث رشد...

انکشاف‌دهات گفت: کارهای مقدماتی ساخت سرک واخان تا سرحد چین از طریق وزارت احیا و انکشاف دهات، آغاز شده و به شدت جریان دارد که به زود ترین فرصت تا سرحد چین می‌رسد و با ساخت اساسی سرک یادشده می توان به رشد اقتصاد منطقه یی باورمند شد. در این دیدار هردوطرف به همکاری‌های دوامدار تأکید کردند.

## بغلان کې د وزلوبې سیالۍ...

دودیزې لوبې په دغه ولایت کې د بیا راژوندي کېدو په حال کې دي ځکه خو د دې ولایت اوسېدونکي د خوښۍ په مراسمو کې دودیزه لوبه وزلوبه او په معاصره لوبه کې د کرکټ سیالۍ ترسره کوي. په همدې مهال د بغلان اوسېدونکي وایي، چې د وزلوبې لپاره له ګڼو سیمو ننداره چیانو د دې لوبو ننداري ته راځي او د امن په فضا کې د وزلوبې سیالۍ ننداره کوي او خوند اخلي، خو غوښتنه کوي چې ورته نورې لوبې باید زیاتې شي.

## به اثر سیلاب‌های اخیر ۳۳ تن جان...

موسسات بین المللی مساعدت صورت گرفته و تداوم کمک ها ادامه دارد. اقای سایق اشاره نمود که در اقدامات اول آگاهی دهی صورت گرفت که از خسارات بیشتر جلوگیری شد و وزارت دولت در امور رسیده گی به حوادث به عنوان یک سازمان و مسوول رسیده گی به متضررین با امکانات دست داشته در تبانی با موسسات ملی و جهانی افزون بر سروی تیم های جستجو و نجات نیز ترتیب کرده است. وی تصریح کرد که در ساعات اولیه سیلاب ها کارمندان وزارت دولت در امور رسیده گی به حوادث به ساحات اسیب پذیر رفته و در همکاری با کارمندان وزارت دفاع ملی، امور داخله، فواید عامه، صحت عامه و مسوولین محلی به اسیب دیده گان رسیده گی، جستجو، عملیات نجات، خدمات اولیه و توزیع کمک ها را مدیریت کردند وی اذعان داشت که به اثر سرازیر شدن سیلاب های اخیر وزارت دولت در امور رسیده گی به حوادث به تمامی تیم های کاری ولایتی خود هدایت جدی داده اند تا با تمام امکانات دست داشته به محلات اسیب پذیر رفته و ضمن تدویر جلسات تحت نظر مقام ولایت برای متضررین رسیده گی نمایند. موصوف همچنان گفت که پروگرام های وقایوی در اولویت های کاری ما قرار دارد و در همکاری ادارات اعضای کمیسیون و حمایت رهبری امارت اسلامی عمل خواهد شد و اضافه نمود که بر اساس امار های ریاست هوا شناسی در روز های اینده نیز باران ها دوام دارد و از همه شهروندان بخصوص کسانی که در مسیر دریا خانه امار کرده و کوچی ها خواست تا به مکان های امن خود را انتقال دهند. قابل ذکر است که باران افزون بر مزیت هایش، تعدادی زیادی از هموطنان را بی خانمان ساخته و مسوولین مربوط همواره تلاش می نمایند تا با امکانات دست داشته در تبانی با موسسات ذیدخل برای انان رسیده گی صورت گیرد.

قیس قادری

## د خلکو په مټ به تر اختر وروسته هم...

په ورته وخت کې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال له راغلو مېلمنو څخه په مننې وویل، چې هر افغان په داډمنه فضا کې د ژوند کولو او خوښي نمانځلو حق لري او اسلامي امارت یې د دې حق ادا کول خپل مسوولیت بولي. هغه زیاته کړه، د امنیتي ځواکونو د ښې همغږۍ او د ملت په همکارۍ به تر اختر وروسته هم د امنیت د تامین هڅې چټکې شي.

د یادولو وړ ده چې په د خلکو په همکارۍ او د امنیتي ځواکونو په هڅو په ټول هیواد کې د اختر درې ورځې په خوښۍ او پرته له کومې امنیتي پېښې پای ته ورسېدې.

## وروستیو اورښتونو د برېښنا بندونو...

عمومي شبکې کې تقسیم شوی دی. دا په داسې حال کې ده، چې د وروستیو موسمي بارانونو له کبله د هېواد په زیاتره لویو بندونو کې هم د اوبو کچ لوړه شوې، چې ور سره د برېښنا د تولید کچه هم زیاته شوې.

## د ایران برید د لاس په سر شوې کفري...

سوریې کې د ایران کونسلګرۍ برید پرمهال کارېدلې وه. تهران واشنګټن ته ګواښ کړی چې د مداخلې په صورت کې به په سیمه کې د امریکا ګڼې پوځي اډې په نښه کړي. ورته وخت کې د امریکا دفاع وزیر ویلي، چې ایران سره د مخامخ کېدو اراده نه لري، خو سیمه کې له خپلو سرتېرو او موخو او دغه راز اسراېلو څخه دفاع ته دوام ورکوي. د ایران د پوځ مشر محمد باقري ویلي، که امریکا له اسراییلو سره راتلونکو اقداماتو کې همکاري وکړي، نو د امریکا پوځي اډې به په امن کې نه وي. باقري له رسنیو سره خبرو کې زیاته کړې، چې دغه پیغام یې د سویس سفارت له لارې امریکا ته استولی دی. ولادیمیر پوتین ویلي چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین خبرداری ورکړی، چې د اسرائیل او امریکا لخوا پر ایران برید به موږ د ایران ملاتړ ته اړ کړي. پوتین ویلي، که امریکا وغواړي چې د اسرائیلو د ملاتړ لپاره د جګړې ډګر ته راووځي، نو موږ به دلته غلي پاتې نه شو. اټکل دا دی چې له اسراییلو لاس په سر شوې کفري نړۍ یوځل بیا له اسراییلو سره خپله خواخوږي زیاته کړې. په دې وروستیو د امریکا، فرانسې او بریتانیې په ګډون ګڼ اروپایي هیوادونه له تل ابیب خپه او خپلې مرستې یې ورسره ځنډولې وې. د امریکا برحاله ولسمشر جوبایډن، نتانیاهو ته ویلي و چې که صهیونستان په غزه کې د ملکي وګړو او مرسته رسونکو کارکوونکو ژوند ته پاملرنه ونه کړي، نو دوی به یې له ملاتړ څخه لاس په سر شي. بایډن په څرګندو ټکو، غاصب صهیونستي رژیم ته ګوتځنډنه کړې چې باید د ملکي وګړو او د مرستندویه ارګانونو د کارکوونکو ژوند ته پام وشي. بایډن ګواښ کړی چې که تل ابیب یې پر غوښتنو غوږ ونه ګروي، واشنګټن به یې پر وړاندې خپله تګلاره تغییر کړي. اوس واشنګټن له اسراییلو پولادي ملاتړ اعلان کړی.

جوبایډن په یوه اعلامیه کې ویلي چې د ایران جنګي الوتکې او توغندي د دوی د هغو نظامي وسلو په وسیله شنډ شوي چې دوی څه وخت کې سیمه کې ځای پر ځای کړې وې. داسې هم ویل کیږي چې دا برید دې ډراماتیک وي او پر اسراییلو دې د امریکا د فرمایشونو د منښت او فشار په پار شوی وي.

خالد افغان

## تخار کې تېر کال نږدې ۱۴۰ زره...

وېش ځانګې فعالې دي چې هره ورځ نارینه او ښځینه غوښتونکو ته خدمتونه وړاندې کوي. په دې وېش ځانګو کې غوښتوونکو ته د نویو تذکرو له وېش سربېره، تر وېش وروسته خدمتونه (د زېږونونو، ودونو او طلاق ثبت، د مثنی تذکرې وېش او د عکس تجدیدول) هم وړاندې کېږي. د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د هېواد په کچه د الکټرونیکي تذکرو د وېش لړۍ لرې پرتو سیمو او ولسوالیو ته غځولې ده چې د یادو سیمو اوسېدونکي په اسانۍ سره کولای شي خپلې الکترونیکي تذکرې ترلاسه کړي.

## چهار کشته به اثر رویداد های ترافیکی...

ابراهیم حلیم مسوول شفاخانه ی مرکزی کندزبه آژانس باخترگفت که بیشتر زخمی شدگان رویداد های ترافیکی، پس ازرسیدگی سرآپا، از شفاخانه مرخص شده اند و شماری هم زیر درمان اند.

## د سیند له غاړو او سېلابي سیمو...

سېلابونو راوتلو ډېر اټکل د (هریرود، هلمند، شمال، کابل او پنج امو) سیندیزو حوزو کې شوی دی. په خبرپاڼه کې همدارنګه ویل شوي، د کوشک و کاشان، هرات، فراه، خاشرود، هلمند، ارغنداب، ترینکوټ، ترنک، غزنی، پکتیا، پکتیکا، خوست، لوګر، کابل، میدان وردګو، غوربند، پنجشېر، لغمان، کونړ، نورستان، فاریاب، جوزجان، بلخ، سمنګان، بغلان، تخار، بدخشان سیندونو د اوبو د زیاتېدو او هلته د ناڅاپي سېلابونو د راوتلو اټکل کړی دی. دغه وزارت له ټولو هغو هېوادوالو څخه چې د نومړو سیندونو پر غاړو کې هستوګن دي، په ډېر درنښت سره هیله کیږي، چې له یادې موضوع څخه ځانونه خبر کړي او د سېلاب د راتلو په صورت کې د سیند د غاړو اړوند او هغه خلک چې په ذکر شویو سیمو کې ژوند کوي خبر کړي؛ تر څو د ځان او خپلو ماشومانو د ساتنې لپاره د سیندونو په غاړو کې له هر ډول تګ او راتګ څخه ډډه وکړي، ترڅو د انساني او مالي زیانونو مخنیوی وشي.

## افزایش روز افزون بازدید کنندگان...

کرده است، درحالی که این رقم در ماه های گذشته اندک بوده است.

انجنیر ذبیح الله امیری رییس اطلاعات و فرهنگ بدخشان به آژانس باخترگفت: موزیم محلی این ولایت ۱۷ سال قبل از امروز تاسیس گردیده که با تعداد کم آثارش از چشم گردشگران و باز دید کننده گان بدور افتاده بود، اما، در این اواخر آثار موزیم محلی را در یک تعمیر جداگانه و مصوون، در ویترین های مخصوص انتقال و نگهداری می شود و به تعداد اثر های آن نسبت به نظام گذشته به گونه چشمگیری افزودی به میان آمده ونیز در ماه بیشتر از ۱۰۰ تن باشندگان بدخشان ولایات دیگر از این موزیم بازدید می کنند.

آثارموزیم محلی بدخشان، ۶۵ اثر باستانی ، تاریخی و فرهنگی شامل اثر سنگی، سفالی، فلزی و چرمی را در بر می گیرد و متعلق به دوره های تاریخی اسلامی و معاصر می شود. در اوقات رسمی موزیم محلی بدخشان، به روی باز دید کنندگان بازاست.

رییس اطلاعات وفرهنگ بدخشان، جهت غنامندی هرچه بیشتر این موزیم، از شهروندان خواست تا آثار تاریخی، فرهنگی و باستانی را که با خود دارند به این ریاست بسپارند و بنام های خودشان ثبت ریاست موزیم ملی نمایند و ریاست اطلاعات وفرهنگ از آثار اهدا شده حفاظت و نگهداری خواهدکرد.

این در حالیست که یک موزیم محلی دیگر تحت نام موزیم و منار شهدا دشت قروغ ناحیه ششم شهر فیض آباد که در آن آثار از شهداء مردم بدخشان که باز گو کننده جنایات رژیم کمونیستی وقت را به نسل های بعدی منتقل می کند در معرض دید باز دید کنندگان قرار گرفته است.

در این موزیم، اولچک، زولانه، سیم های خار دار که به دستان شهدا بسته شده است ازحفره یی بگونه دسته جمعی بدست آمده است، نگهداری می شود.

## روزګان، کونړ، پنجشېر، لغمان او غور...

اورښتونو او سېلابونو له کبله درې ماشومان سېلابونو وړي او همداراز د چنارتو ولسوالۍ اړوند شفلوغ سیمه کې د خلکو له لوري جوړ شوی یو چکډېم هم تخریب شوی او ځینې برخې یې اوبو وړې دي.

په ورته وخت کې د غور د والي ویاند عبدالواحد حماس وایي، چې د دغه ولایت په تولک، ساغر ولسوالیو کې د سېلابونو له کبله یو شمېر هستوګنیز کورونه ویجاړ شوي او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

په همدې حال کې د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې مدیر احسان ویلي، چې د دغه ولایت په بېلا بېلو سیمو کې د سېلابونو له کبله لسګونه کورونه نړېدلي او د یوې باندې د راپرېوتو له کبله د ۷۰ څارویو د تلف کېدو تر څنګ ګڼ مالي زیانونه هم اوښتي دي.

هغه زیاته کړې، چې د شېګل ولسوالۍ په ګلایي سیمه کې د یوه کور د ړنګېدو له کبله دوه کسان ټپیان شوي، چې اوسمهال تر درملنې لاندې دي.

دا په داسې حال کې ده، چې د پنجشېر ولایت د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس محب الله جاهد ویلي چې په حصه اول ولسوالۍ کې د سېلابونو د راوتو له کبله درې هستوګنیز کورونه ویجاړ شوي او په عنابه ولسوالۍ کې د یوه سړک د تخریبېدو ترڅنګ د برېښنا یو کوچنی بند هم ویجاړ شوی دی.

زیات باران او سېلابونو په مرکز مهترلام او ولسوالیو کې زیانونه اړولي دي.

د یادونې وړ ده، چې د لغمان ولایت د پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس قاري خیرمحمد غازي د دغه ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې د سېلابونو له کبله د زیانونو اوښتو خبر ورکړی دی.

نوموړي زیاته کړې، چې اوس مهال د لغمان په مرکز او پینځه ګونو ولسوالیو کې باران او ځینو سیمو کې واوره ورېږي چې له امله یې مختلفو سیمو کې ۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه او ۳۰ هستوګنیز کورنه ویجاړ شوي دي.

## هغه میرویس خان چې ګرګین...

دارغستان په یوه باغ کې هر کلي ووایه او یوه میلمستیا یې ورته جوړه کړه .کله چې نیمه شپه شوه ګرګین او پوځیان یې دشرابو په نشه کې ډوب شول ، نومیرویس نیکه له خپلو جنګیالیو ملګرو سره پر هغو برید وکړ ګرګین او نور ټول ګرګینیان یې له تیغه تیر کړل. په دې توګه ګرګین او له هغه سره راغلی درې زره لښکر مات شو او پاتې پوځونه له کندهار ه وتښتیدل او په کندهار کې دمیرویس نیکه په مشرۍ ملي حکومت جوړ شو. که څه هم صفویانو بیا څو څو ځلې دکندهار دنیولو لپاره لښکرې ور ولیږلې خو هر ځل دمیرویس نیکه دغوره تدبیر او ښې مشرۍ له امله صفوي لښکرې ما تې شوې .

افغانانو چې خپلوکي واخیستله ،نو په ښکاره د هند تیموري واکمنانو هم له مجبوریته په رسمیت وپیژندله.

میرویس نیکه اته(۸) کاله دخپل ملت قیادت اومشرتوب وکړ چې هغوی هم داستقلال ګټلو او غوره خدمتونو له امله دنیکه لقب ورکړ. عزتمن او درونند نیکه ۱۱۲۷ هـ ق له نړۍ کوچ وکړ.

مرا بس که گویند قومم «پدر»
ندارم طمع گوهر و سیم وزر
یو میرویس په مونږ نشته چې ګرګین لارې ته سم کړي
یو شېرشاه را پیدا نه شو چې مغول ته ودربږي

Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ویب سایت:

**شريعت**
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزيع و شکايات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 15 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 427

# د ایران برید د لاس په سر شوې کفري نړۍ پام بیا اسراییلو ته وروړاوه




**شـــريعت:** تهران تېره شـنبه شپه د سـلګونو جنګي-چاودېدونکـو الوتکـو، سـلګونو بالسـتيک، کـروز او نورو وسـلو پـه مټ پر اسـراييلو څـو لوريز پـراخ برید وکړ چـې بیاځلـې يې اسـراییلو تـه د کفـري نـړۍ ورپـام کـړ. د ایـران انقلابي ګارډ خبر ورکړی، چې په اسـراییلو د بریـد هدفونه په برياليتوب سـره ترلاسـه شول او په دغـه برید کې يـې تر ۱۰۰ زيات اسـرایيل له تېغـه تېر کړي. تهـران وايي چـې دا بريدونه يې د اسـراييلو له خوا دمشق کې د دوی پر کونسـلګرۍ د بريـد په ځواب کـې کـړي دي. په يـاد برید کې چې پـه روانه اپرېل مياشـت کې وشو، د سپاه پاسداران ۷ لوړپوړي پوځـي چارواکـي ووژل شـول. د ايران بريـد جوابېدل له سـفره راګرځولـې او په خپـل ايکس يې وليـکل چـې امنيتي ټيم سـره پر خبرو بوخـت دی او ايـران ته به ځواب ورکړي. نوموړي دغه شـان د (جي اووه) هيوادونو له مشـرانو سـره هم کتلي. امنيت شورا هم پر اسراييلو د ايران بريدونه غندلي او په تړاو يې بېړنۍ ناسـته رابللې ده. بل خـوا اردن تـه اردن تـه ايران خبرداری ورکړی چې اسراييلو سره له کومک ډډه وکړي. ايران اردن ته داسې حال کې دا خبرداری ورکوي، چې بېګا شـپه اردن هېواد يو شمېر هغـه توغنـدي او ډرون الوتکې و ويشـتلې، چې ايران د اسـرائيلو هـدف کولـو لپـاره توغولې وې. تل ابيـب ادعا کوي چـې دفاعي سيستم يې د تهران نږدې ۹۹ سلنه توغنـدي شـنډ کړي خـو په هغه ويډيوګانو چې په خواله رسنيو کې لاس په لاس کېږي، د بريد ويجاړې زيات دی. د ايران رسـمي خبري اژانـس ويلي، چـې د اسـرائيلو النقـب هوايـي اډه يې پـه خيبر توغنديو ويشـتلې، ايران ادعا کړې چې ياده اډه په... ۳مخ

## رویدادهای خارجی

**پوتین:**

### کوچک‌ترین تعرضی از سوی امریکا به خاک ایران روسیه را مجبور به حمایت از ایران می‌کند



پـس از انجام حمـلات ایران بـر خاک اسـرائیل و تأکید جو بایدن، رئیس جمهور امریکا بر حمایت مسـتحکم کشورش از تل‌آویو، ولادیمیر پوتین، رئیس جمهور روسـیه هشدار داده که کوچک‌ترین تعرضی از سـوی امریـکا به خاک ایران روسـیه را مجبـور به حمایـت از ایران می‌کند. پوتین گفته است: «اگر امریکا می‌خواهد برای حمایت از اسـرائیل به میـدان بیاید ما اینجا بیکار نمی‌شینیم.» رئیس جمهور امریکا پس از حملات راکتـی ایـران بر اسـرائیل این حملات را محکـوم نموده و بر تعهد آهنین واشـنگتن به امنیت اسرائیل تأکید کرده است.

### باران شدید و برخورد رعد و برق در پاکستان دست‌کم ۲۴ کشته برجا گذاشت



مقام‌های پاکستانی از جان باختن دسـت‌کم ۲۴ تن در اثر باران‌های شـدید و برخورد با صاعقه در سه ایالت این کشـور خبـر داده‌اند. اداره مبـارزه بـا حـوادث طبیعی پاکستان روزیکشنبه، بیست‌وششم حمل بـا نشـر خبرنامـه‌ی گفته ۱۷ تـن در اثـر باران‌های شـدید و هفـت تن دیگر در اثـر برخورد با رعـد و بـرق جـان باخته‌اند. بـر اسـاس گزارش‌هـا هشـت خانـه زیـر آور شـده و برخی از راه‌هـا خیابان‌ها بسـته شـده‌اند. به گفتـه اداره مبـارزه با حوادث طبیعی پاکستان ۱۷ تن در پنجاب، پنج تن در بلوچستان، و دو تن دیگر در خیبرپختونخـوا جان باخته‌اند. همچنیـن مقامـات پاکسـتان از تلاش‌هـای بـرای کمـک بـه آسـیب‌دیدگان ایـن رویـداد طبیعـی خبـر داده‌انـد. پیـش از این نیز باران‌های شـدید فروریختن سقف خانه‌ها در مناطق مختلـف ایالـت خیبریختونخوا پاکسـتان جـان ۸ تـن را گرفت و ۱۲ زخمـی برجـا گذاشـت. این در حالی است که بارندگی‌های موسـمی و زمسـتانی هر سال در پاکسـتان منجر به جان ده‌ها تن و خسارات زیادی شده است.

**ترکي پولیس:**

### اختر شپو ورځو کې مو تر زرو زیات کډوال نیولي

د ترکیې د کورنیو چارو وزیر ویلي، چې د اختر په ورځو کې د ځانګړو عملیاتو په ترځ کې ۱۱سـوه او ۷۷ تنه ناقانونه کډوال نیول شوي دي. نومـوړي ویلي، چې نیول شـوي کسـان د کډوالو د مدیریت اداري ته سپارل شوي او د اخراج بهیر يې هم پیل شـوی دی. که څه هم تر اوسـه د دغو کډوالو هویت نه دی په ډاګه شوی، خو په دې وروستیو کې زرګونه افغـان کډوال له ترکیې اخراج او افغانستان ته استول شوي دي. ترکیـه د بېلابېلـو هېوادونو د هغو کډوالـو لپاره، چـې غواړي اروپا ته ځانونه ورسوي، د سمندر او ځمکـې د لارې اصلي تم‌ځای دی.



### وزارت خارجه ایران سفیران بریتانیا، فرانسه و آلمان در تهران را احضار کرد

وزارت امور خارجه ایران می‌گوید که سایمون شرکلیف، سفیر بریتانیا، نیکلا رش، سـفیر فرانسه، و هانس اودو موتسـل، سـفیر آلمـان، به صـورت جداگانه از سـوی مدیر کل منطقـه غربی بـه وزارت امور خارجه این کشـور، احضار شدند. ایـن وزارت اعـلام کرد کـه این احضـار به دلیـل «مواضـع غیر مسئولانه» برخی مقامات بریتانیا، فرانسـه و آلمان در واکنش به حمله ایران به اسـرائیل انجام شده است. مقامـات ایرانـی تاکیـد کرده‌اند که ایـن عمـل نیروهای مسـلح ایـران علیـه پایگاه‌هـای نظامی اسـرائیل، در چارچـوب «حـق دفاع مشـروع» انجام شده است. بـا این حـال، وزارت امور خارجه ایـران در بیانیـه‌ای بـه «رویکرد دوگانه» این سـه کشور انتقاد کرده است.

**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

## پوهنې وزیر هرات کې دوې دیني مدرسې پرانیستې




د هرات سـیمه ییز مسوولینو ویلي چې پـه دغـه ولایت کـې د دوو مدرسو کارونه بشـپړ او پرون ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د پوهنې وزارت سرپرسـت مولوي حبیب الله آغا هرات ته د خپل سفر په بهیر کې د یاد ولایت د کشک او سربلند ولسوالیو زلزله ځپلو سیمو کې د دوو دیني ... ۳مخ

**وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث:**

## به اثر سیلاب‌های اخیر ۳۳ تن جان باخته و ۲۷ تن دیگر مجروح گردیدند



**شـــريعت:** مولوی محمد عبدالله جان سایق سخنگوی وزارت دولت در امور رسـیده گی به حوادث طی کنفرانس خبری از خسـارات جانی و مالی به میـان آمده به اثـر باران های شدید و سیلاب های اخیر در کشور خبر داده گفت:» به اثر باران های شدید و سیلاب های اخیر در اکثر ولایات مانند بادغیس، ارزگان، فراه، کندهار، تخـار، زابل، پروان، ننگرهار، هلمند، کابل، خوسـت، دایکندی، کونر، کاپیسـا، پنجشیر، پکتیکا، پکتیا، لوگر، لغمان و هرات ۳۳ تن جان باخته و ۲۷ تن مجروح گردیده، تقریبـا ۶۰۶ خانه به گونه ی قسـمی و کلی تخریب شـده، ۱۹۵۰ جریـب زمین های کشـت زار از بیـن رفته، تقریبا ۸۵ کیلو متر سـرک و راه های فرعـی تخریب و ۲۰۰ راس مواشـی تلف و ۱۰۰۰ خانه خسـاره مند گردیده اسـت. وی علاوه کرد:» از آغاز ماه حمل تا اکنون برای ۲۲۸۵۱ خانواده آسیب دیده و متضرر به همکاری... ص۳

## تخار کې تېر کال نږدې ۱۴۰ زره تذکرې وېشل شوې دي



د تخـار ولایـت د احصایـې او معلوماتو ریاسـت په ۱۴۰۲ لمریز کال کې په ټولیـز ډول ۱۳۹ زره او ۸۸۳ کسانو ته تذکرې وېشلې دي، چې ۶۸زره او ۱۴۹ الکترونیکي او ۷۱ زره او ۷۳۴ یې کاغذي تذکرې دي.

د تخـار ولایـت د احصایـې او معلوماتو رییس قاري شیرشاه بریال وایي چې هره ورځ شـاوخوا ۵۰۰ کسـان د الکترونیکـي او کاغذي تذکـرو اړوند خدمتونو د ترلاسـه کولو په موخه د دې ریاست اړوندو دفترونو ته مراجعه کوي.

ښـاغلی بریال زیاتوي، چې د مرکز پـه ګـډون د دې ولایت پـه ټولو ولسـوالیو کې د دوی اړوند دفترونه فعـال دي او تېر کال د یادو دفترونو له لارې توانیدلـي دي چې ۶ زره او ۸۲۹ کسانو ته په کاغذي تذکرو کـې د اصلاحاتو او ۱۱ زرو او ۲۵۱ نورو کسـانو ته د ژوند پېښـو (۱۰ زره او ۶۶۸ زېږون کارتونه او ۵۸۳ د مړینې پارچـې) اړوند خدمتونه وړاندې کړي.

د تخـار ولایـت د احصایـې او معلوماتـو ریاسـت د معلوماتـو پـر بنسـټ په یـاد ولایـت کې د الکترونیکي تذکرو دوې... ۳مخ

## چهار کشته به اثر رویداد های ترافیکی در کندز

درنتیجه ی وقوع رویداد های ترافیکی درجریان روزها وشـب های عید در کندز، چهارتن جان باختند و پنجاه وسه تن دیگر زخمی شدند.

محمـد یاسـین مسـوول اداره ی ترافیک کندزبه آژانس باخترگفت که درجریان روز ها و شـب های عید، پانزده رویـداد ترافیکی ثبت شـده است که درآن چهارتن جان باختند وپنجاه وسه تن دیگر زخم برداشتند. اوبـی احتیاطی رانـندگان را علت اصلـی وقوع ایـن رویـداد ترافیک خواند.

ازسویی هم داکترمحمد... ص۳

## امنیتي ځواکونو بادغیس کې د یوې کورنۍ غړي له سېلاب څخه ژغورلي دي

د بادغیس ځایـي چارواکو په دغه ولایت کې له سـېلاب څخه د یوې کورنۍ د ژغـورل کېدو خبر ورکړی دی. د یـاد ولایـت د اطلاعاتو او کلتور رئیس اخنـدازاده مطیع الله متقـي باختر اطلاعاتـي اژانس ته ویلي چې امنیتـي ځواکونو په مقر ولسوالۍ کې د یوې کورنۍ ۳ غړي، چې په سـېلاب کې بنـد پاتې وو، ژغورلي دي. د نوموړي په وینا په ژغورل شـویو کې د یوه ماشـوم او یوې مېرمنې په ګډون درې کسـان شامل دي او په یوه موټر کې د سـېلاب په منځ کې بند پاتې وو، چې ورمه شپه د امنیتي ځواکونو له لوري وژغورل شول. د یادونـې وړ ده، چې د اسـلامي امارت منسوبینو تر دې وړاندې هم سـلګونه هېوادوال، چې د ورښتونو او سېلابونو له کبله د مرګ له ګواښ سره مخ وو، ژغورلي وو.

## بغلان کې د وزلوبې سیالۍ پیل شوې

د بغـلان د اطلاعاتـو او کلتـور ریاسـت مسـوولین وایـي، چې دودیزې لوبې په دې وروسـتیو کې په دغه ولایت کې د راژوندي کېدو په حال کې دي او خلک د خوښۍ په مراسمو کې وزلوبې ترسره کوي. د بغلان ورزشـي آمر قاري محمد امیر امیري وویـل، چې د وزلوبې دغه درې ورځنۍ سیالۍ د ذبیح الله حسین خېل او کته خېلو ځوانانو له لوري پیل شـوې، چې د بغلان او بغلان ته څېرمه ولایتونو لسګونه چـاپ اندازانو پکې ګډون کړی دی. ورته مهال د بغـلان د اطلاعاتو او کلتور ریاست د کلتور او ګرځندوی آمر مولوي عزت میر حقاني وویل، چې په دې وروستیو کې ۳مخ